**موږ ستاسو ملاتړي يو!**



د ترکيې د بهرنيو چارو وزير مولود چاوش اوغلو د لوی اختر د مراسمو په مناسبت په خپلو خبرو کې پر بنګله دېش ږغ وکړ چې د هغو روهنګيايي مسلمانانو پر مخ خپله دروازه پرانيزي چې د زور او زياتي له امله د ميانمار د لوېديځ راخاين ايالت څخه د تېښتې په حال کې دي. دغه راز زياته يې کړه چې د نوموړو مسلمانانو ټول لګښت به ترکيه پرې کوي.

د روهنګيايي مسلمانانو دغه غمجن حالت د اسلامي امت احساسات او کړنې د اسلامي عقيدې او د رسول الله صلی عليه و سلم د هغه حديث پر بنسټ پاروي چې فرمايي:

**«تَرَى الْمُؤْمِنِينَ فِي تَرَاحُمِهِمْ وَتَوَادِّهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ كَمَثَلِ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى عُضْوًا تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ جَسَدِهِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى»** (صحيح بخاري)

*ته مومنان په داسې حال کې وينې چې دوی په تراحم، مهربانی او عاطفه کې د يوه جسد په څېر دي، که د جسد يوه برخه ښه نه وي، نو ټول جسد ناروغ او تبه لري.*

داچې د ترکيې لومړي وزير تر ټولو مخکې بيانيه وړاندې کړه، دليل يې دا دی چې په اسلامي امت کې د خپلو نورو مسلمانو ملګرو په اړه اندېښنې په راټوکېدو دي او د بنګله دېش لومړي وزيري د هغې وينا پر وړاندې غبرګون دی، چې ويلي وو: «هغه مسلمانان چې له ميانمار څخه د زور زياتي له امله تښتي، د دې د حکومت مسوليت نه دی چې د هغو لاسنيوی وکړي». چې د نوموړې دې وينا د امت قهر او غوسه وپاروله او په دې تړاو يې لاريونونه تر سره کړل.

موږ ته اسلامي عقيده د نورو مسلمانانو د حالت په اړوند ليدلوری ټاکي. موږ ته عقيده لارښوونه کوي چې د خپلو ځانونو او نورو مسلمانانو په اړه داسې فکر وکړو چې موږ ټول په يوه حالت کې قرار لرو. بيا به هغه وخت موږ و کولای شو چې د روهنګيايي مسلمانانو د حالت د بدلون په اړه فکر وکړو او د دغه حالت د بدلون لپاره به مو داسې ثابته تګلاره غوره کړې وي چې د خپل ځان لپاره يې غوښتونکي يو. اوس اجازه راکړئ چې د روهنګيايي مسلمانانو د ويرجن حالت او ستونزو په اړه فکر وکړو. د مايانمار د حکومت له لوري لرکې مسلمانان اړ ايستل کېږي چې خپل کورونه پرېږدي. دوی رېړول کېږي، جنسي تېري پرې کېږي او ژوندي په اور سوځول کېږي، ځکه دوی **«لا اله الا الله»** کلمه وايي.

د ترکيې وزير څرګندونې او ليدلوری په داسې حالت کې ځای لري. ايا دا څرګندونې زموږ اړتياوې پوره کولای شي؟ ايا د هغو لپاره چې ژوندي دي او د هغو لپاره چې د دغه ظالم رژيم له لوري وژل شوي دي، عدالت تامينولای شي؟ ايا دغه کار ستونزه حلولای شي او د ميانمار د پوځ بريدونه بندولای شي؟ خو تر

ټولو مهمه دا ده چې موږ د یو امت په توګه څه ډول پیغام لیږدولای شو، په داسې حال کې چې موږ د یوه مسلمان په توګه د دغه لویې بې عدالتۍ پر وړاندې نه دریږو او همدا دلیل د بریدونو د دوام دی.
لږ تر لږه یوه وینا چې د میانمار د پوځ له لوري د دغه ټولوژنې د بندېدو سبب ګرځي، هغه دا ده چې ترکي وزیر وواېي چې په ناټو کې دویم لوی فوځ د خپلو مسلمانو ورونو او خویندو د دفاع لپاره چمتو دی. نو د ترکي وزیر لپاره مناسبه او وړ وه چې په میانمار کې د روان وضعیت په اړه یې ویلي وای، چې د ترکیې فوځ د تیارسۍ په حال کې دی. که دغه زور زیاتې سمدلاسه ونه دریږي، موږ پوځي مداخله کوو.
موږ د یوه امت په توګه هر هغه څه چې په د امت کې پېښیږي باید په هغه لاره ورسره معامله وکړو، چې موږ خپلې ستونزې حلوو، په ډېر جدیت او قاطعیت سره ستونزو ته بنسټیزه حل لاره پیداکړو. په دې مانا چې موږ اړ یو د ستونزې د نښو، دلایلو، سببونو او البته د ستونزو د حل لارو ترمنځ د توپیر کولو وړتیا ولرو.
کله چې د روهنګیایي مسلمانانو وضعیت له نژدې څارو، نو نښې او نښانې یې دا دي چې دوی وژل کیږي، ربړول کیږي، جنسي تېري پرې کیږي او د خپلو کورونو څخه شړل کیږي. دلیل یې دا په ګوته کولای شو چې داسې کوم بنسټ نشته چې له دوی څخه دفاع وکړي. هیڅ پوځ د دوی ساتنې ته نه ورځي او هیڅ چارواکی دغه مجرمین عدالت ته نه کشوي. د دې ستونزې سبب دا دی چې د مسلمانانو واکمنان د خپلو هیوادونو د مدیریت لپاره شریعت ته رجوع نه کوي یا هم په دغه حالت کې پوځونه نه مدیریت کوي.
ځکه د ستونزې حل دا نه دی چې د دغو مسلمانانو د پاتې کیدو لپاره بنګله دېش ته لګښت ورکړو. دغه کار عدالت نه پلی کوي او نه هم د روهنګیا د مسلمانانو تریخکلي حالت ته بدلون ورکولای شي. یوازینی حل دا دی چې د اسلامي نړۍ پوځونه سره منظم کړو او دا پیغام ولیږدوو چې موږ د خپلو مسلمانانو ورونو او خویندو ملاتړ کوو.

﴿وَإِنِ اسْتَنْصَرُوكُمْ فِي الدِّينِ فَعَلَيْكُمُ النَّصْرُ﴾ [الانفال: ۷۲]

**ژباړه:** *او که دوی له تاسو څخه د دین لپاره مرسته وغواړي، نو مرسته یې وکړئ.*

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکواله: یاسمین ملک**

**د حزب التحریر د مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالحجې ۱۴مه**

**۲۰۱۷م، د سپتمبر ۵ مه**